مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ۲۰۲۶/۰۳/ ۱۶

**شعر**

# پنجاب ته ډالی

دا ویلي هوښیارانو
خپل عمل د لاري مل دی
چي کړي هغه به ربي
پښتنو کي دا متل دی
نن چي بند په بند لنډیږی
د تبر لاستی دي خپل دی
زموږ کور دي سوزولو
اوس دي خپل کورکي اور بل دی
تا وژلي په هر رنګ یو
نن دي کور کي جوړ غوبل دی
تا پر نورو کړل تاختونه
نن په تا باندي یرغل دی
مري له لوږي حال دي ګوره
درست ولس دي یرغمل دی
هر وګړی دي خایین دی
هر چارواکی دي لوی غل دی
اصل نوم دي سرچپه دی
پاکستان نه دی غوجل دی
چي پر موږ کړي بمبارونه
امریکي ته دي جوړ چل دی
خدای خو څکه یي وهلی
ستا هوښیار هم لوی پاګل دی
رانږدي ستا تباهي ده
رسیدلي دي اجل دی
بیا راغلی احمد شاه دی
لوی ښمنتن ورسره مل دی
چي مي جوړ کړل دا بیتونه
د روژي پنځه او شل(۲۵) دی

د ښاغلی محمد انور اخړ نوري لیکني په دی لینک کي ولولی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ